د لوړو زده کړو وزارت
علمي معینیت
د اکاډمیکو چارو د انسجام ریاست
د علمي برنامو د پراختیا ریاست

# د هېواد پوهنتونونو تحصیلي نصاب د بیاکتنې او پراختیا برنامه

## د ښوونې روزنې پوهنځی

# د فزیک څانګې تحصیلي نصاب

## Curriculum of Physics Department

عقرب 1398 لمریز- کابل

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لوړو زده کړو وزارت مقام پیغام

په زده کړوه سمبال او متخصصه بشري قوه د هېواد د سیاسي، ټولنیز، او اقتصادي پراختیا اصلي عناصر ګڼل کېږي. بې له شکه د یو هر اړخیز پرمختللي افغانستان پراختیا د یوې متخصصې او مسلکي بشري ټولنې څخه بغیر ناشونې ده، دافغانستان د لوړو زده کړو وزارت او اړوند بنسټونه په بېلابېلو څانګو کې د متخصصو او مسلکي کسانو د روزنې او اسانتیاوو د برابرولو مسولیت په غاړه لري، سټندرډ او معیاري زده کړې په یو سټندرډ، معیاري، لوړ او نوي شوي زده کړه ییز نصاب چې د ټولنې او زده کړیالانو د اړتیاوو او د سیمې او نړۍ په کچه په ملي او نړیوالو معیارونو پر بنسټ برابر او تنظیم شوی او منل شوی وي، تړاو لري. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت ددې مهم او اړین امر د تحقق، پلي کولو او لوړو زه کړو د معیاري کولو په موخه د ستونزو سره سره یو لوړ اړین او ګټور ګامونه پورته کړي دي.

موږ باور لرو چې د افغانستان خلک یو لوړ او تر ټولو غوره زده کړه ییز نصاب او زده کړو لایق دي، چې د نړیوالو باورنو څخه برخوداره وي، او د افغانستان د کار د بازار ستونزو ته ځواب ویونکی وي، ددې موخو د ترلاسه کولو لپاره د نړیوالو معیارونو سره همغږي او برابر نصاب ته لاس رسی اړین امر دی.

د لوړو زده کړو وزارت په ملی ستراتژیک پلان کې د ټولو څانګو لپاره د معیاري زده کړه ییز نصاب ترتیبول او رامنځ ته کول اصلي موخه وه چې په همدې موخه د زده کړه ییز نصاب کمیسون ته دنده وسپارل شوه، تر څو په دې اړه یوه لارښوونه ترتیب کړي او دهغه په رڼا کې د ټولو څانګو د نصاب پراختیا او بیا کتنه پیل کړي.

له نیکه مرغه د نصاب د پراختیا او بیا کتنې پروسه نږدې دوه کاله دمخه په ټولو څانګو کې د اړتیا په نظر کې نیولو سره د څانګو، پوهنځیو، پوهنتونونو او له دولتي او خصوصي بنسټونو او همدارنګه د سیمې د هېوادونو دنمونو له مطالعو او کتنو وروسته را پیل شوه، د یو شمېر څانګو نصابونه بشپړ او پلي شول.

اوسمهال دخوښۍ ځای دی چې ددې پروسې په دوام د هېواد بېلابېلو پوهنتونونو د ښوونې روزنې پوهنځیو مختلفو څانګو د نصاب پراختیا او بیاکتنه د نوې لارښوونې په اساس، د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د ښوونې روزنې پوهنځیو د علمي غړو او مسؤلینو په مرسته او همت د نصاب د ملي کمیسون تر نظر لاندې بشپړ او د پلي کولو په موخه تیار شو، موږ په پورته څانګو کې د هر یوه د ریښتینو هڅو شاهدان وو چې د زده کړه ییزو بنسټونو د معیاري کولو او د اړتیا په نظر کې نیولو، مسلکي کتنې،د کلستر ترتیبول، د څېړنې مرحله او د نصاب وروستي کولو په موخه یې ترسره کړې. د دوی دا هڅې او کړنې چې د معیاري او باکیفیته نصاب د جوړول لپاره یې تر سره کړې ستایم او تقدیروم.

د ویاړ ځای دی چې اوسمهال د ښوونې روزنې پوهنځي د برخې نږدې آته مختلفو څانګو نصاب بیاکتنه بشپړه او وروستی شوه، د لوړو زده کړو وزارت دغه نصاب د هېواد ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته چې اړونده څانګې لري وړاندې کوي، موږ هیله لرو چې دغه نوی نصاب به د ستونزو او کمیو خالي او د غوره او باکیفیته زده کړو او ټولنې د اړتیا وړ وګرځي.

په پای کې له ټولو د ښوونې روزنې څانګو د نصاب ترتیب کوونکو او برابروونکو، د لوړو زده کړو وزارت له همکارانو، د نصاب ملي کمیسون د غړو، زحمت کښو استادانو، د پوهنځیو ریسانو، د اړوندو څانګو آمرینو او په دغه پروسه کې د ننه ټولو کسانو څخه مننه کوم، په اکاډمیکو چاور کې ورته د لابریالیتوبونو هیله کوم.

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین او سرپرست

پوهنمل ډیپلوم انجنیر عبدالتواب بالا کرزی

## د تحصیلي نصابونو د بیا کتنې او پراختیا ملي برنامه

تحصیلي نصاب د لوړو زده کړو په وزارت کې د علمي برنامو له مهمو او کلیدي عناصرو څخه شمېرل کېږي. د معیاري تحصیلي نصاب تطبیق د هیواد د بشري قوې او زده کړیالانو د تربیې لپاره د یوې نقشې په ډول د لوړو زده کړو په موسساتو کې له یوه لوري د زده کړې او د تدریس د کیفیت د ښه والي او له بل پلوه د کار د بازار د اړتیا په پام کې نیولو سره ټولنې ته وړاندې کوي. له همدې امله د لوړو زده کړو وزارت په هیواد کې د زده کړو د تر ټولو لوړ او عالي تنظیم کوونکي په توګه د هیواد د پوهنتونونو د تحصیلي نصاب د بیا کتنې او پراختیا د کار د بازار د موخو سره سم په زده کړه ییزو څانګو کې د منل شوو نړیوالو معیارونو په نظر کې نیولو سره د( یو ملت .یو تحصیلي نصاب ) تر شعار لاندې په ټولو تحصیلي موسسو او پوهنتونونو کې د څانګې له سطحې څخه نیولې د پوهنځي، پوهنتون ان د وزارت تر سطحې پورې شروع کړه، او په نظر کې ده چې موجوده یو سل او پنځه شپیته مختلفې د لیسانس دورې فارغ ورکوونکې څانګې د دغې برنامې تر پوښښ لاندې راوړل شي.

د نصاب د پراختیا پروسه د ضرورت د درک کولو له مرحلې څخه شروع شوې، چې په هغې کې د کار د بازار، د لوړو زده کړو موسساتو د علمي کادر غړو، هغه که دولتي وي او که خصوصي وي له اړونده ادارو ، د ګمارونکو نخبه ګانو سره د ناستو او مشورو په نظر کې نیولو او د نظرونو د راټولولو څخه وروسته د کار د موادو په شکل د څانګو په تخصصي کلسترونوکې د نصاب جوړونې د متخصصینو له لورې تحلیل او تجزیه شول او د نوو تحصیلي نصابونو په تنظیم کې له هغو څخه کار واخیستل شو.

د تحصیلي نصاب د بیا کتنې کلستر عبارت له یو ډله تجربه لرونکو متخصصینو، او په اړونده څانګې پورې له هغو استادانو څخه چې د نظر خاوندان دي هغه که د خصوصي پوهنتونو پورې تړاو لري او که شخصي پوهنتونونو پورې تړاو لري، د ګمارونکو له استازو ( دولتي او خصوصي)، د خارجي پوهنتونونو له ورزیده متخصصینو، د وروستیو کلونو د فارغانو له استازو د لوړو زده کړو وزارت د نصاب د ملي کمیسون له استازو څخه عبارت دی، د موجوده ټولو نصابونو له بیا کتنې څخه وروسته او همدارنګه د نړیوالو مآخذونو څخه د ضرورت درک کولو څخه وروسته په ګوته شوي او د نصاب په څو مرحلو کې ورته پراختیا ورکړل شوه.

د تحصیلي نصابونو په بیا کتنه کې چې د هرې څانګې د زده کړه ییزو موخو په اساس ترتیب شوي دي، او د هر مضمون او هر درس لپاره زده کړه ییزې موخې تعریف شوي دي چې د څانګې له زده کړه ییزو موخو سره ورته والي یا مطابقت لري، له دې څخه علاوه په هیواد کې نور ټول شته نصابونه، د موضوع اړوند د نورو هیوادونو معتبرې منابع هم مطالعه شوې او له هغو څخه هم ګټه پورته شوې ده. د زده کړیالانو مهارتونو او وړتیاو ته په کتنې سره لکه معلوماتي تکنالوژي څخه د ګټې اخیستلو، د انتقادي تفکر(Critical thinking) روحیه، عملي کارونو(Internship) ته زیاته پاملرنه، د اړیکو او مکالمې مهارتونه، د همکارې روحیه او د ګروپي کارونو سره اشنایې، د نو آورې او خلاقیت روحیه تقویه کول، د مشکل د حل مهارت، د اوږ مهال لپاره د زده کړې (Life Time Learner) مهارت، له مختلفو نړیوالو کلتورونو سره بلدتیا، د هیواد پالنې حس تقویه کول، اسلامي روحیه او له دې څخه علاوه هغو معیارونو ته چې د یونسکوسازمان له لوري چې د یوویشتمې پېړۍ د مهارتونو په نامه تعریف شوي هم په کار اچول شوي او په پام کې نیول شوي دي.

د تحصیلي نصاب د بیا کتنې او پراختیا ملي برنامه د تحصیلي نصاب د ملي کمیسون چې د لوړو زده کړو وزارت د علمي برنامو د انکشاف ریاست له لورې تطبیق کېږي ، ځای لري چې د نصاب ملي کمېسون له محترمو غړو له همکارې او همدارنګه د ټولو هغو زیدخل اعضاوو څخه چې ددې برنامې د بشپړاوي لپاره یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي د مننې څرګندونه او د زړه له تله ورته کوروداني وایم .

پوهنمل خواجه زبیر صدیقی

د علمي برنامود پراختیارئیس

## پیل خبرې

د ښوونې او روزنې په برخه کې او په ځانګړې توګه د فزیک څانګې د معیاري زده کړو وړاندې کول د مسلکي معیاري کادرونو د روزلو رسالت مهم دی چې د ښوونې او روزنې پوهنځي ددې درونو او عظیم بار مسؤلیت په غاړه لري، د یادولو وړ ده چې اکاډمیک بنسټونه هغه وخت کولای شي چې خپل مسؤلیت او رسالت په سمه او ښه توګه سرته ورسوي چې د زده کړیالانو د مسلکي مهارتونو د لوړولو او د زده کړه ییز نصاب د اصلاح په موخه د زده کړیالانو د دندو لپاره له پخوا څخه زیاته توجه وکړي او د هغوی لپاره کاري فرصتونه رامنځ ته کړي.

زده کړه ییز نصاب د هر هیواد د لوړو زده کړو یوه بنسټیزه برخه ده، څرنګه چې زده کړه ییز نصاب په واقعیت کې په لنډ او ټولیز ډول د یو مضمون بیوګرافي یا پېژندنه ده چې د یو درسي کورس یا د یو مضمون د مفرداتو د ځانګړنو د لارښود په توګه پېژندل کېږي، کوم چې د ټاکل شویو موخو او موضوعاتو په بنسټ په زده کړیالانو کې د ښلابښلو مهارتونو، سلوک او د زده کړې په برخه کې تغیر او بدلون رامنځته کوي او زده کړیالان ټاکل شویو موخو ته رسوي.

د هر پوهنتون، پوهنځي او څانګې په کچه د نصاب کمېټې دندې لري، کوم نصاب چې په تېرو کلونو کې تدریس کېده، یو وار تر ارزونې، بیاکتنې او د پراختیا په موخه تر بحث لاندې ونیسي، ترڅو د ټولنې غوښتنې، د اړتیا وړ بازارموندنې، د تکنالوژۍ له پرمختګه او د وروستیو علمي لاس ته راوړنو سره سم د هیوادونو او نړیوالو معیارونو په نظر کې نیولو سره عیار او د ټولنې وګړي پرې سمبال کړي، چې د ۱۳۹۶ کال د حوت میاشتې ملي اجماع تاکید هم په همدې موضوع وه.

د پوهنتونونو او پوهنځیو په کچه د نصاب د بیاکتنې کمېټه د پوښتنپاڼو په وېشلو چې د علمي کادر غړو، فارغ التحصیلو کسانو، برحالو محصلینو، دولتي او خصوصي استخدام کوونکو ادارو ته په واک کې ورکړي وو، ترڅو په تحصیلي نصاب کې د ضعیفو او قوي ټکو، اسانتیاوو او ستونزو د شتون په اړه معلومات را ټول کړي. ددې پوښتنپاڼو او مرکو د تحلیل او تجزیې څخه د هرې څانګې ضعیف او قوي ټکي را ټول شوي او په ګوته شوي دي، تر څو اسانتیاوو او ستونزو ته انعکاس ورکړي. په همدې اساس د زده کړه ییز نصاب اصلاح او بیا کتنې ته عملیاتي پلانونه جوړ او لومړیتوبونو ته په کې ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د ښوونې او روزنې پوهنځي په اتو څانګو (فزیک، ریاضي، جغرافیه، تاریخ، بیولوژي، کیمیا، بدنې روزنه او ټولنپوهنه) کې د کریکولم د بیا کتنې لپاره د زده کړه ییز نصاب د یووالي او معیاري کولو په موخه کوټلي ګامونه اخیستل شوي او پرې کار پیل شوی وو، چې په هغه کې د ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو د ښوونې او روزنې پوهنځیو زده کړه ییز نصاب د بیا کتنې لاندې ونیول شو. د یو کال تخصصي کار څخه وروسته چې د هیواد په کچه د کلسټرونو د څو مرحله ایزو کارونو په پایله کې د کار د بازار ارزونه او د یوه واحد ملي نصاب د رامنځته کولو په موخه پای ته ورسید.

ټاکل شوې ده چې د نوي زده کړه ییز نصاب په تطبیق سره به د ټاکل شویو څانګو زده کړیالان په ژوره پوهه، مهارتونو او د مسولیت په پېژندنه سنبال شي، تر څو دوي وکولای شي په اسانۍ سره د کار بازار ته وړاندې شي او په پایله کې به باکیفیته او تخصصي خدمات ټولنې ته وړاندې کړي.

په اطمنان سره ویلای شو چې تر دې وروسته به زده کړیالان د مسلکي مهارتونو لرونکي، له کمپیوټر او انټرنېټ سره د بلدتیا په لرلو او په ملي او بین المللي ژبو سمبال، په خپل ځان متکي، ریښتوني او په ټولنیزو او اکاډمیکو مسایلو کې د تحلیل او تجزیې وړتیا لرونکو او ملي ګټو ته متعهد، وطن پالونکي او په وطن مین زده کړیالان ټولنې ته وړاندې کړي.

په درنښت

# لړلیک

عنوان مخ


د لوړو زده کړو وزارت مقام پیغام ............ أ

د تحصیلي نصابونو د بیا کتنې او پراختیا ملي برنامه ............ ب

پیل خبرې ............ ج

سریزه ............ 1

لیدلوری(Vision) ............ 2

رسالت (Mission) ............ 2

ارزښتونه ............ 2

زده کړه ییزې موخې (Learning Objectives) ............ 3

تمه لرونکې پایلې (Expected Outcomes) ............ 3

په لنډ ډول د فزیک څانګې معرفي ............ 3

اړتیاوې ............ 3

د محتوا پېژندنه ............ 4

د مضامینو سمستروار جدول ............ 6

د عمومي فزیک 1 مفردات ............ 14

د عمومي فزیک 2 مفردات ............ 19

د میخانیک 1 مفردات ............ 24

د میخانیک 2 مفردات ............ 29

د مالیکولي او حرارتي فزیک مفردات ............ 34

د هندسي آپتیک مفردات ............ 39

د میخانیک (1) او میخانیک(2) د تطبیقاتو مفردات ............ 44

د نور فزیک د تطبیقاتو مفردات ............ 50

د مالیکولي او ترموډینامیک تطبیقات مفردات ............ 55

د موجي آپتیک مفردات ............ 61

د برېښنا او مقناطيس 1 مفردات ........ 66
د ترموډيناميک مفردات ........ 71
د برېښنا او مقناطيس 2 مفردات ........ 76
د نظري ميخانيک مفردات ........ 81
د استرانومي مفردات ........ 86
په فزيک کې د کمپيوټر مفردات ........ 91
د برېښنا او مقناطيس د تطبيقاتو مفردات ........ 97
د اتومي فزيک مفردات ........ 102
د الکتروتخنيک فزيک مفردات ........ 107
د فزيک د تدريس د تيوري او ميتودونو مفردات ........ 113
د نوي کېدونکي انرژي مفردات ........ 119
د څېړنې مفردات ........ 124
د هستوي فزيک مفردات ........ 130
د الکترونيک مفردات ........ 136
په فزيک کې د څېړنې د پروژې مفردات ........ 141
د الکترونيک د تطبيقاتو مفردات ........ 146
د علمي سير مفردات ........ 152
د جامد حالت فزيک مفردات ........ 156
د کوانټم ميخانيک فزيک مفردات ........ 161
د فزيک د مسايلو ميتوديک حل مفردات ........ 167
د مونوګراف مفردات ........ 172
د نسبيت فزيک مفردات ........ 178
د عمومي رياضي 1 مفردات ........ 184
د اناليز حقيقي 1 مفردات ........ 188
د اناليز حقيقي 2 مفردات ........ 192

د تیوري احتمالاتو مفردات ........................................................................................................ 196
د تفاضلي معادلو مفردات ........................................................................................................ 200
د احصاییې 1 مفردات ........................................................................................................ 204
په فزیک کې د ریاضي د میتودونو مفردات ........................................................................................................ 208
د وکتور انالیز1 مفردات ........................................................................................................ 211
د عمومي کېمیا 1 مفردات ........................................................................................................ 214
د اسلامي نړۍ لېد مفردات ........................................................................................................ 216
عبادتونه او د هغوی حکمت د مضمون مفردات ........................................................................................................ 220
د اسلامي اخلاقي نظام مفردات ........................................................................................................ 224
د اسلام د اجتماعي نظام مفردات ........................................................................................................ 228
د اسلام د سیاسي نظام مفردات ........................................................................................................ 232
د اسلام اقتصادي نظام مفردات ........................................................................................................ 236
د قرآن او معاصرو علومو مفردات ........................................................................................................ 240
د اسلامي تمدن مفردات ........................................................................................................ 244
د مضامینو نه بشپړ شوي مفردات ........................................................................................................ 248
د کلستېر ګډونوال ........................................................................................................ 249

# سریزه

که د هېواد لوړو زده کړو وزارت په نظام کې د تحصیلي نصاب د منځپانګې او بیاکتنې جوړښت د نړیوالو علمي معیارونو په اساس جوړ وي، دا کار د ټولنې د هر اړخیزې پراختیا لامل او د راتلونکو نسلونو لپاره د روښانه راتلونکې زیری ورکوي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره د تحصیلي نصاب په دوامداره توګه بیاکتنه او د نظرونو تبادله کول ډېر اړین دي، داسې چې د نړۍ په معتبرو پوهنتونونو او تحصیلي بنسټونو کې د درسي نصاب بیاکتنه یو مهم امر دی. د ټولنې ستونزو ته د حل موندنې لپاره پرته له تحصیلي نصابه بل معیار نشته. له ځانګو څخه تر لوړو زده کړو وزارت پورې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ښاغلیو مسؤولینو دوامداره هڅې ددې لپاره دي، چې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتژیک پلان له مخې په ټولو ځانګو کې د معیاري او عصري کریکولم شتون یو مهم او حتمي امر دی.

د افغانستان د پوهنتونونو د ښوونې او روزنې پوهنځیو د فزیک ځانګو د تحصیلي نصاب د بیاکتنې او یووالي په موخه د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره لومړني اقدامات د لوړو مقاماتو د لارښوونو په صورت کې پیل شول. په دې پړاو کې له زده کړیالانو او علمي کادري غړو څخه د پوښتنلیکونو، مرکو او ورکشاپونو له لارې نظر سنجي وشوه. همدا راز د نړۍ او سیمې باوري پوهنتونونو، لکه: د ایران، ترکیې او هندوستان د پوهنتونونو تحصیلي نصابونه مطالعه شول. په همدې توګه د درسي نصاب د اصلاح لپاره له هغو بهرنیو او کورنیو متخصصینو څخه چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په پرمختګ کې یې رول لوبولی او په ځانګړي ډول په خپله ځانګه کې یې تجربې او تخصص درلود، ګټه واخېستل شوه.

ننګوونې او نیمګړتیاوې لکه؛ د بېلابېلو ولایتونو د ښوونې او رزونې پوهنځیو د فزیک په ځانګه کې د نسبتاً ګن او توپیر لرونکو تحصیلي نصابونو شتون، د یوې ځانګې په توګه د ریاضي او فزیک ځانګو ادغام، د مضمونونو د محتوا ترمنځ تداخل، د واحد او ملي کوډ نه درلودل، د فارغانو علمي او فني مهارتونو ته نه پاملرنه، د لوړو زده کړو وزارت د کریډیټ سیسټم د لایحې له موادو څخه د سم درک او تعریف په برخه کې ستونزې، د درسي معیاري او د فزیک ټولو ځانګو ته د منلو وړ کتاب نه شتون، د کریډیټونو د شمېر نه متناسب والی، د کورس له ډول څخه د سم تعریف نه شتون، د کریډیټ لایحې د تطبیق په ډول کې د پام وړ اختلافات او نور مسایل چې د فزیک ځانګې په مخکني نصاب کې د راټول شویو اسنادو او مدارکو په استناد شتون درلود. نو ددې لپاره کوښښ وشو، چې په نوي نصاب کې دا پورته ذکر شوې ستونزې حل شي.

په بل ګام کې د فزیک ځانګې تحصیلي نصاب د بیاکتنې تخصصي کمېټې، د دولتي پوهنتونونو د تجربه لرونکو علمي کادري غړو، د نصاب د بیاکتنې د ملي کمېټو غړو او د پوهنې وزارت د یو شمېر استازو په شتون کې جوړ شو. دغې کمېټې د بېلا بېلو پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو د تحصیلي نصاب را رسېدلي لومړني راپورونه وارزول ، په پیل کې یې د فزیک کلستر د ځانګې تحصیلي نصاب، توحید شوې او معیاري مسوده جوړه او د تحصیلي نصاب ملي کمېټې ته یې وړاندې کړه. وروسته د بیاکتنې په موخه د پوهنتونونو د فزیک ځانګو ته واستول شوه. له سمونو څخه وروسته بېرته د فزیک کلستر په وروستۍ غونډه کې تر بیاکتنې لاندې ونیول شوه او نوموړې مسوده وروستۍ شوه. په پای کې د فزیک ځانګې په مضمونونو او لړلیکونو کې ځلوېښت سلنه بنسټیز بدلون راغی.

د هیواد د دولتي پوهنتونونو د ښوونې او روزنې پوهنځیو د فزیک ځانګو د تحصیلي نصاب د مسلکي تدوین او تدقیق تخصصي کلستر ویاړي، چې د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو او اکاډمیکو پالیسیو په رڼا کې، د علمي برنامو د پراختیا ریاست تر نظر لاندې، د خپلو اړوندو پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو د ستراتیژي له مخې د فزیک ځانګې د تحصیلي نصاب د اصلاحي او پراختیایي بیا کتنې برنامه (د هغه له ضمایمو سره) پیل کړه او په اړوند کلستر کې د غونډې په دویمه دوره کې د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو اکاډمیکو معیارونو سره برابر، تحصیلي نصاب د هغه له ټولو ضمایمو سره د رایو په یووالي د ۱۳۹۸ لمریز کال د عقرب په میاشت کې جوړ او بشپړ کړ، د نوي تحصیلي نصاب متن چې د درسي لړلیکونو، د هر مضمون لپاره بېلې کورس پالیسۍ شاملې دي (درسي کورس) وروستی کړ، او د لوړو زده کړو وزارت او د ښوونې او روزنې پوهنځیو د فزیک ځانګو اکاډمیکې ټولنې ته یې وړاندې کوي.

انتظار دا دی، چې ترسره شوې هڅې د لیسانس تحصیلي سوېې د شته ننګونو او نیمګړتیاوو لوېې برخې ته د پای ټکی کېږدي او د دې هیواد بچیانو ته د سیمې او نړۍ په کچه د ماسترۍ او دکتورا په تحصیلي برخه کې د معیاري زده کړو زمینه برابره کړې وي.

په پای کې د لوړو زده کړو وزارت له محترمو مسؤولینو د تحصیلي نصاب د بیاکتنې د ملي کمیټې له غړو او د کلستر له ګډونوالو څخه نړۍ مننه کوو، چې په ډېر صبر او حوصله مندي سره یې نوموړې پروسه بریالۍ کړه.

## لیدلوری(Vision)

د تحصیلي نصاب په تطبیق او د شاګرد محورې او د تحقیق پر مبنا تدریس، د تدریس او د زده کړې د بېلابېلو طریقو څخه ګټه آخېستنه به د فزیک علم په مختلفو برخو کې بنسټیز کړي. ددې ترڅنګ غواړو چې د فزیک څانګې د نړۍ او سیمې له پوهنتونونو سره اکاډمیک تړونونه ولري او د څانګې ټول علمي کادرونه د دوکتورا د تحصیلي درجې درلودونکي وي. ترڅو په راتلوونکي کې وکولای شي چې د ماسترۍ او دوکتورا په کچه تحصیلی دورې ولري او په بېلابېلو کرنېزو، روغتیایي، تکنالوژیکي او صنعتي برخو کې د وخت د غوښتنو سره سم لازم خدمتونه سرته ورسوي، ترڅو د هېواد اقتصاد ورسره پیاوړتیا ومومي. زموږ لیدلوری به د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د ټولنې د طبي، کرنې، انرژۍ تولید، صنعتي، تکنالوژۍ او سیاسي برخو کې د پراختیا په صورت کې له احتمالي بدلونونو سره یو ځای وي.

۱- په دې څانګه کې د تآلیف او څېړنې فرهنګ رواجول او تطبیقول به ټولنه د پراختیا خواته یوسي.

۲- د انتقادي او مغزي طوفان د پروسې ترویج ته تمایل به ټولنیز جوړونکی تعامل رامنځته کړي او د اکاډمیکو تجربو تعامل به زده کړیالان مسؤل، ژمن او نوښت لرونکي ښاریان جوړ کړي چې وکولای شي پیچلې ستونزې حل کړي او په بېلابېلو برخو کې عامه ګټې تآمین کړي.

۳- د فزیک څانګې استادان به پرله پسې نوښت ته ژمن وي او په دغه څانګه کې د ښه تدریس کولو په برخه کې د نوي والي هرکلی کوي او هڅه به کوي چې په لنډ مهال کې فارغانو ته د هېواد په کچه او اوږد مهال کې به د سیمې په کچه د کار زمینه برابره کړي.

## رسالت (Mission)

فزیک څانګه د خپلو با تجربه استادانو په درلودلو ویاړي. د هېواد په کچه به ټولنې ته ژمن مسلکي ښوونکي وړاندې کړي، چې د خپلو وړتیاوو او کاري مهارتونو پر مټ به وکولای شي، شته ستونزې حل او نویو پرمختګونو ته د لاسرسي لپاره څېړنې ترسره او د پرمختګ لامل شي.

## ارزښتونه

- اسلامي او ملي قوانینو او اصولو ته ژمنتیا او بشپړ درناوی.
- په تعلیمي وړتیاوو سمبال اشخاصو روزل، چې په ښوونځیو کې د فزیک مضمون په ښه توګه تدریس کړي.
- د لوړو زده کړو (ماسترۍ او دوکتورا) لپاره د بااستعداده ځوانانو خارج ته لېږل.
- هر کال د یو ملي کنفرانس کوربه توب کول.
- بهرنیو هېوادونو ته د دوکتورا پروګرام د ترسره کولو لپاره لږ تر لږه په کال کې د دریو ځوانو کادرونو لېږل.
- د ځوانو څېړونکو په شمېر کې زیاتوالی.
- د نظري تدریس تر څنګ عملي تدریس ته زمینه برابرول.

## زده کړه ییزې موخې (Learning Objectives)

د فزیک څانګې زده کړه ییزې موخې په لاندې ډول دي:

- د کلاسیک فزیک معرفي کول.
- د ماډرن فزیک معرفي کول .
- له نورو علومو سره د فزیک اړیکې.
- په بېلا بېلو ساحو کې د فزیک د قوانینو د تطبیق په ګوته کول.
- د پاکې او صفا انرژۍ معرفي کول.
- په ورځنیز ژوند کې د فزیک د قوانینو کارونه .

## تمه لرونکې پایلې (Expected Outcomes)

**ددې څانګې فارغان به وکولای شي چې:**

- ❖ د فزیک په ساحه کې له کلاسیک فزیک او موډرن فزیک سره اشنایي پیدا کول.
- ❖ د کلاسیک فزیک او ماډرن فزیک تر منځ اړیکې پیدا کول.
- ❖ د پوهانو له هغو قوانینو سره اشنایي پیدا کول چې د طبیعت د څېړنو لپاره وړاندې شوي.
- ❖ د فزیک له قوانینو څخه په ورځنیز ژوند کې ګټه پورته کول.
- ❖ د فزیک د قوانینو د تطبیق ساحې په ګوته کول.
- ❖ د نني پرمختللي ټکنالوجي او فزیک د قوانینو په وسیله یې توضیح کول.
- ❖ ددې څانګې فارغان به وکولی شي، چې د ساده ذراتو او همدارنګه له نوې کیدونکې انرژۍ سره اشنایي پیدا کړي.

## په لنډ ډول د فزیک څانګې معرفي

د فزیک څانګه د لوړو زده کړو په چوکات کې د ښوونې او روزنې پوهنځي په داخل کې فعالیت کوي ، چې د لیسانس په کچه فارغ ټولنې ته وړاندې کوي. د یادې څانګې فارغان د هېواد د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د ښوونکي په توګه دنده تر لاسه کوي. همداراز کېدای شي، چې د حکومت په چوکاټ کې په نورو وزارتونو کې هم دنده تر لاسه کړي. کولای شي په علمي او اداري دواړو برخو کې په دنده وګمارل شي، خو بنسټیزه موخه یې ټولنې ته د مسلکي او تخصصي ښوونکي وړاندې کول دي.

## اړتیاوې

**د علمي پروګرام بیا کتنه د لاندې اړتیاوو په نظر کې نیولو سره ترسره شوې.**

- ➢ د هیواد په کچه د یو واحد درسي نصاب نه درلودل.
- ➢ د هیواد په کچه هغه ستونزې چې محصلینو به له یو پوهنتون څخه بل پوهنتون ته د تبدیلي په وخت کې درلودې.
- ➢ په کادري بستونو کې د لیسانس په کچه د استخدام مسئله چې ټولو فارغانو یو ډول محتوا نه لوستله.
- ➢ استادانو او همدارنګه اداري پرسونل ته هغه ستونزې چې د ټرانسکریپټ او نتایجو په جوړولو کې یې درلودې.
- ➢ د سیمې په کچه د کریکولم وروسته والی، چې د ماستري د تر لاسه کولو په صورت کې به ستونزې تر حده زیاتې وې.
- ➢ د پوهنتون څخه له فراغت نه وروسته د دندې د پیدا کېدو په صورت کې مشکلات او ستونزې.
- ➢ بېدون له معلمي څخه د بلې دندې د اجرا په صورت کې زیات مشکلات .

## د محتوا پېژندنه

**الف- د تحصیلي دورې موده:** د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د فزیک څانګې د لیسانس دوره په عادي ډول څلور کاله په بر کې نیسي.

**ب – د مضامینو کریډېټونه او کوډ نمبرونه:** په دې کریکولم کې د کریډېټونو مجموعه ۱۶۱ کریډېټه کېږي، چې له تخصصي، مسلکي او اساسي، پوهنتون شموله او اختیاري مضامین په بر کې نیسي. له Ed څخه موخه د ښوونې روزنې پوهنځی (Education Faculty) او له Ph څخه یې موخه د فزیک څانګه (Physics Department) دی. د یادونې وړ ده، چې دوه لومړني عددونه د سمستر لپاره او دوه وروستي عددونه د مضمون لپاره مشخص شوي دي.

**ج – درسي مضامین او د هغوی ډلبندي:** د لوړو زده کړو وزارت د کریډټ سیستم د لایحې د دویمې مادې په نظر کې نیولو سره د لیسانس دورې کریډېټونه باید له ۱۳۶ څخه کم نه وي او همدارنګه لوړ حد یې د تحصیلي دورې په نظر کې نیولو سره په هر سمستر کې له ۲۱ کریډېټونو څخه ډېرېدای نشي. د لوړو زده کړو وزارت د کریډټ د سیستم د لایحې د دریمې مادې په نظر کې نیولو سره د لیسانس دورې مضامین له مسلکي او اساسي، تخصصي، اختیاري او پوهنتون شمول څخه عبارت دي. چې مسلکي او اساسي مضامین باید له ۳۰٪ څخه ډېر، تخصصي مضامین له ۵۰٪ څخه کم، اختیاري او پوهنتون شموله مضامین له ۱۲٪ څخه ډېر او ستاژ، مونوګراف او سیمینار او ډیپلوم د پروژې بشپړونه له ۸٪ څخه ډېر نشي او نمرې له ۱۰۰ څخه محاسبه کېږي. د پورته مضامینو سلنه په تحصیلي نصاب کې ځای په ځای شوې ده.

د پورته مواردو په نظر کې نیولو سره د فزیک کلستر د پرېکړو په اساس په درسي نصاب کې شامل مضامین د تخصصي څانګې په نظر کې نیولو سره په لاندې ډول وېشل کېږي.

- مسلکي او اساسي مضامین: په دې کریکولم کې په ټولیز ډول (40) کریډېټونه چې ( 24.845 ) سلنه کېږي، په دې څانګه کې ځای ورکړل شوی دی.
- تخصصي مضامین: په دې کریکولم کې په ټولیز ډول (91) کریډېټونه چې (56.521) سلنه کېږي، په دې څانګه کې ځای ورکړل شوی دی.
- اختیاري او پوهنتون شموله مضامین: په دې کریکولم کې په ټولیز ډول (21) کریډېټونه چې ( 13.043 ) سلنه کېږي، په دې څانګه کې ځای ورکړل شوی دی.
- د عملي کار، مونوګراف او علمي سیر: په دې کریکولم کې په ټولیز ډول ( 10) کریډېټونه چې (6.211) سلنه کېږي، په دې څانګه کې ځای ورکړل شوی دی.

د مضامینو پورته کریډېټونه او سلنه یې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

| مسلکي او اساسي مضامین | | | تخصصي مضامین | | | اختیاري او پوهنتون شموله مضامین | | | مونوګراف، ستاژ او علمي سیر | | | مجموعه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د مضامینو شمېر** | د کریډېټونو شمېر | سلنه | د مضامینو شمېر | د کریډېټونو شمېر | سلنه | د مضامینو شمېر | د کریډېټونو شمېر | سلنه | د مضامینو شمېر | د کریډېټونو شمېر | سلنه | د مضامینو شمېر | د کریډېټونو شمېر | سلنه |
| **16** | 40 | 24.845 | 29 | 90 | 55.9 | 15 | 21 | 13.043 | 3 | 10 | 6.211 | 63 | 162 | 100 |
| د یادونې وړ ده چې زده کړیال باید له ( 4) اختیاري مضامینو څخه چې ( 8) کریډېټه کېږي، ( 4 ) کریډېټونه په خپله تحصیلي دوره کې واخلي. | | | | | | | | | | | | | | |

**د- د نظري او عملي کار تناسب:** په دې کريکولم کې د ټولو مضامينو لپاره عملي کارونه يانې تطبيقات په نظر کې نيول شوي دي.

**هـ – د زده کړې او تدريس کړنلارې:** د فزيک په څانګه کې په نويو کړنلارو سره تدريس پرمخ بېول کېږي. چې له هغې ډلې څخه شاګرد محوري څخه يادونه کولای شو او برسيره پر OBE & SCL له ميتودونه د تدريس له لاندې ميتودونو څخه يادونه کولای شو.

- لکچر ميتود
- پوښتنې او ځوابونه
- مباحثه
- ګروپي کار
- مناقشه
- د زده کړيالانو په واسطه د سيمينارونو ارايه کول

د پورته ميتودونو برسيره کولای شو، له نورو مؤثرو ميتودونو څخه هم ګټه پورته کړو.

**ز – د زده کړيالانو د ارزونې ډول:** زده کړيالان د سمستر په جريان کې د سل فېصده نمرو په ارزښت د کريډيټ د لايحې د ۱۹ مې مادې په نظر کې نېولو سره په لاندې ډول ارزول کېږي.

- په صنفي فعاليتونو کې د ونډې سلنه ( د زده کړې او تدريس پروسه ): ۵٪
- د صنفي پروژو سلنه ( کورنې دنده ): ۵٪
- د ډله ايز او انفرادي فعاليتونو سلنه ( عملي کار ): ۱۰٪
- د سمستر د نيمايي آزموينې سلنه: ۲۰٪
- د نهايي آزموينې سلنه: ۶۰٪
- ټولټال: ۱۰۰٪

# د مضامینو سمستروار جدول

| ( 1 ) سمستر (لومړی کال، لومړی سمستر) | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمېر | اړوند پوهنځۍ او څانګه | مخکني اړین مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | ستاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | عمومي رياضي | Ed. Ma - 0120 | اساسي | 32 | 32 | | 64 | 4 | رياضي | | |
| 2 | د افغانستان معاصر تاريخ | Ed. Hi - 0105 | پوهنتون شمول | 32 | | | 32 | 2 | تاريخ | | |
| 3 | عمومي فزيک1 | Ed. Ph - 0120 | اساسي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزيک | | |
| 4 | عمومي ارواپوهنه | PS. GP - 0106 | مسلکي / اساسي | 20 | 12 | | 32 | 2 | ارواپوهنه | | |
| 5 | انګليسي 1 | LI . EN - 0102 | پوهنتون شمول | 22 | 10 | | 32 | 2 | انګلیسي | | |
| 6 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0101 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعليمات | | |
| 7 | غذايي مصؤنيت / سوله | Ed. Bi - 0150/Ed. Hi - 0151 | اختياري | 16 | 0 | | 16 | 1 | بيولوژي / تاريخ | | |
| 8 | کمپيوټر | CE. IE - 0103 | پوهنتون شمول | 16 | 16 | | 32 | 2 | کمپيوټر ساينس | | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 186 | 86 | | 272 | 17 | | | |

| ګڼه | د مضمون ډول | کریډټ | د کریډیټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 8 | 4.969% | 1 | غذايي مصؤنيت | | اختياري |
| 2 | تخصصي | 0 | 0 | 2 | سوله | | اختياري |
| 3 | اساسي | 9 | 5.59% | د څانګې د آمر لاسلیک | | | |
| مجموعه | | 17 | 10.559% | | | | |

| (2) سمستر (لومړی کال، دویم سمستر) | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کتګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمیر | اړوند پوهنځۍ او څانګه | مخکني اړين مضامين | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | ستاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | انالیز $I$ | Ed. Ma - 0221 | اساسي | 32 | 16 | | 64 | 3 | رياضي | | |
| 2 | عمومي فزیک 2 | Ed. Ph -0220 | اساسي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزیک | عمومي فزیک 1 | |
| 3 | میخانیک 1 | Ed. Ph - 0221 | تخصصي | 32 | 32 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 4 | انکشافي ارواپوهنه | PS. GP - 0207 | مسلکي / اساسي | 20 | 12 | | 32 | 2 | ارواپوهنه | | |
| 5 | انګلیسي 2 | LI. EN - 0202 | پوهنتون شمول | 22 | 10 | | 32 | 2 | انګلیسي | انګلیسي 1 | |
| 6 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0201 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعلیمات | | |
| 7 | بدني روزنه / روغتیايي ښوونې | Ed. Ps – 0252/Ed. Bi - 0253 | اختیاري | 16 | 16 | | 32 | 2 | بدني روزنه / بیولوژي | | |
| 8 | عمومي کیمیا | Ed. Ch - 0220 | اساسي | 32 | 16 | | 48 | 3 | کیمیا | | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 202 | 118 | | 320 | 20 | | | |

| ګڼه | د مضمون ډول | کریډیټ | د کریډیټونو د مجموعي شمیر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 5 | 3.105% | 1 | بدني روزنه | | اختیاري |
| 2 | تخصصي | 7 | 4.348% | 2 | روغتیايي ښوونې | | اختیاري |
| 3 | اساسي | 8 | 4.969% | د خانګي د آمر لاسلیک | | | |
| مجموعه | | 20 | 12.422% | | | | |

| ( 3 ) سمستر (دویم کال، لومړی سمستر) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کود | د مضمون کتګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمېر | اړوند پوهنځی او ثانګه | مخکني اړین مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | سناړ | مجموعه | | | | |
| 1 | انالیز *II* | Ed. Ma- 0321 | اساسي | 16 | 16 | | 32 | 2 | رياضي | انالیز1 | |
| 2 | احتمالات | Ed. Ma - 0336 | اساسي | 16 | 16 | | 32 | 2 | رياضي | | |
| 3 | میخانیک 2 | Ed. Ph - 0321 | تخصصي | 32 | 32 | | 64 | 4 | فزیک | میخانیک1 | |
| 4 | مالیکولي او حرارت فزیک | Ed. Ph -0322 | تخصصي | 20 | 12 | | 32 | 3 | فزیک | | |
| 5 | تربیتي ارواپوهنه | PS. GP – 0308 | مسلکي / اساسي | 20 | 12 | | 32 | 2 | اروا پوهنه | | |
| 6 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0301 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعلیمات | | |
| | چاپیریال ساتنه | Ed. EN – 0304 | پوهنتون شمول | 32 | 0 | | 32 | 2 | چاپیریال ساتنه | | |
| 8 | هندسي اپتیک | Ed. Ph - 0323 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزیک | | |
| 9 | د میخانیک تطبیقات (لابراتوار) | Ed. Ph - 0324 | تخصصي | 0 | 32 | | 32 | 2 | فزیک | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 184 | 136 | | 320 | 21 | | | |

| ګڼه | د مضمون ډول | کریډیټ | د کریډیټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کتګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 3 | 1.863% | 1 | | | اختیاري |
| 2 | تخصصي | 12 | 7.453% | 2 | | | اختیاري |
| 3 | اساسي | 6 | 3.726% | د څانګې د آمر لاسلیک | | | |
| مجموعه | | 21 | 13.043% | | | | |

| (4) سمستر (دويم کال، دويم سمستر) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| گڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | د کريډيټونو شمېر | اړوند پوهنځی او څانګه | مخکني اړين مضامين | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | ستاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | تفاضلي معادلي | Ed. Ma - 0427 | اساسي | 32 | 16 | | 48 | 3 | رياضي | | |
| 2 | د نور فزيک تطبيقات (لابراتوار) | Ed. Ph - 0425 | تخصصي | 0 | 32 | | 32 | 2 | فزيک | | |
| 3 | د ماليکول او ترموديناميک تطبيقات | Ed. Ph - 0426 | تخصصي | 0 | 32 | | 32 | 2 | فزيک | | |
| 4 | موجي اپتيک | Ed. Ph - 0427 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزيک | | |
| 5 | برېښنا او مقناطيس 1 | Ed. Ph - 0428 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزيک | | |
| 6 | د ښووني او روزني اساسات | PE. ED - 0409 | مسلکي / اساسي | 20 | 12 | | 32 | 2 | ښوونه او روزنه | | |
| | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0401 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعليمات | | |
| 8 | ترموديناميک | Ed. Ph - 0429 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزيک | | |
| 9 | احصاييه | Ed. Ma - 0428 | اساسي | 20 | 12 | | 32 | 2 | رياضي | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 216 | 120 | | 336 | 21 | | | |

| گڼه | د مضمون ډول | کريډيټ | د کريډيټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | گڼه | اختياري مضامين | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختياري او پوهنتون شمول | 1 | 0.621% | 1 | | | اختياري |
| 2 | تخصصي | 13 | 8.074% | 2 | | | اختياري |
| 3 | اساسي | 7 | 4.347% | د خانګي د آمر لاسليک | | | |
| مجموعه | | 21 | 13.042% | | | | |

| (5) سمستر (دریم کال، لومړی سمستر) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمېر | اړوند پوهنځی او څانګه | مخکې اړین مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | ستاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | په فزیک کې د ریاضي میتودونه | Ed. Ma - 0533 | اساسي | 32 | 16 | | 48 | 3 | ریاضي | | |
| 2 | برېښنا او مقناطیس 2 | Ed. Ph - 0528 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزیک | برېښنا او مقناطیس 1 | |
| 3 | نظري میخانیک | Ed. Ph - 0530 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزیک | | |
| 4 | استرانومي | Ed. Ph - 0531 | تخصصي | 48 | 16 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 5 | په فزیک کې کمپیوټر | Cs. Ph - 0532 | تخصصي | 12 | 20 | | 32 | 2 | فزیک | کمپیوټر | |
| 6 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0501 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعلیمات | | |
| 7 | وکتور انالیز | Ed. Ma - 0518 | اساسي | 32 | 16 | | 48 | 3 | ریاضي | | |
| 8 | د برېښنا او مقناطیس تطبیقات | Ed.Ph - 0533 | تخصصي | 0 | 32 | | 32 | 2 | فزیک | برېښنا او مقناطیس | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 204 | 132 | | 336 | 21 | | | |

| ګڼه | د مضمون ډول | کریډیټ | د کریډیټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 1 | 0.621% | 1 | | | اختیاري |
| 2 | تخصصي | 14 | 8.695% | 2 | | | اختیاري |
| 3 | اساسي | 6 | 3.727% | د څانګې د آمر لاسلیک | | | |
| مجموعه | | 21 | 13.042% | | | | |

| (6) سمستر (دریم کال، دویم سمستر) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمېر | اړوند پوهنځی او څانګه | مخکنې اړین مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | سټاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | اتومي فزیک | Ed. Ph - 0634 | تخصصي | 48 | 16 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 2 | الکتروتخنیک | Ed. Ph - 0635 | تخصصي | 32 | 32 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 3 | د فزیک د تدریس تیوري او میتودونه | Ed. Ph - 0636 | تخصصي | 48 | 16 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 4 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0601 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعلیمات | | |
| 5 | تربیتي ارزیابي | PE. ED - 0610 | مسلکي / اساسي | 20 | 12 | | 32 | 2 | ښوونه او روزنه | | |
| 6 | نوي کیدونکي انرژي | Ed. Ph - 0637 | تخصصي | 20 | 12 | | 32 | 2 | فزیک | | |
| 7 | د څېړنې کړنلاره | Ed. Ph - 0638 | تخصصي | 32 | 32 | | 64 | 4 | قزیک | | |
| 8 | | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 216 | 120 | | 336 | 21 | | | |

| ګڼه | دمضمون ډول | کریډیټ | د کریډیټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 1 | 0.621% | 1 | | | اختیاري |
| 2 | تخصصي | 18 | 11.180% | 2 | | | اختیاري |
| 3 | اساسي | 2 | 1.242% | د څانګې د آمر لاسلیک | | | |
| مجموعه | | 21 | 13.042% | | | | |

| (7) سمستر (څلورم کال، لومړی سمستر) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمیر | اړوند پوهنځی او څانګه | مخکني اړین مضامین | کتني |
| | | | | نظري | عملي | ستاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | هستوي فزیک | Ed. Ph - 0739 | تخصصي | 48 | 16 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 2 | الکترونیک | Ed. Ph - 0740 | تخصصي | 48 | 16 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 3 | د فزیک د څېړني پروژه | Ed. Ph - 0741 | تخصصي | 0 | 48 | | 48 | 3 | فزیک | دڅېړني کړنلاره | |
| 4 | د الکترونیک تطبیقات | Ed. Ph - 0742 | تخصصي | 0 | 32 | | 32 | 2 | فزیک | الکترونیک | |
| 5 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0701 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعلیمات | | |
| 6 | تدریسي زده کړې | Ed. Ph - 0743 | ستاژ (تخصصي) | 32 | 0 | 32 | 64 | 4 | فزیک | | |
| 7 | علمي سیر | Ed . Ph - 0744 | ستاژ (تخصصي) | 0 | 0 | 32 | 32 | 2 | فزیک | | |
| 8 | | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 144 | 112 | 64 | 320 | 20 | | | |

| ګڼه | د مضمون ډول | کریډیټ | د کریډیټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 1 | 0.621% | 1 | | | اختیاري |
| 2 | تخصصي | 19 | 11.801% | 2 | | | اختیاري |
| 3 | اساسي | 0 | 0 | د څانګې د آمر لاسلیک | | | |
| | مجموعه | 20 | 12.422% | | | | |

| (8) سمستر (څلورم کال، دویم سمستر) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | درسي ساعتونه | | | | د کریډیټونو شمیر | اړوند پوهنځی او څانګه | مخکې اړین مضامین | کتنې |
| | | | | نظري | عملي | ستاژ | مجموعه | | | | |
| 1 | د جامد حالت فزیک | Ed. Ph - 0845 | تخصصي | 32 | 16 | | 48 | 3 | فزیک | | |
| 2 | کوانټم میخانیک | Ed. Ph - 0846 | تخصصي | 48 | 16 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 3 | اسلامي ثقافت | IE. IC - 0801 | پوهنتون شمول | 16 | 0 | | 16 | 1 | اسلامي تعلیمات | | |
| 4 | د فزیک د مسایلو میتودیک حل | Ed. Ph - 0847 | تخصصي | 32 | 32 | | 64 | 4 | فزیک | | |
| 5 | مونوګراف | Ed. Ph - 0848 | ستاژ (تخصصي) | 16 | 0 | 48 | 64 | 4 | فزیک | | |
| 6 | د دفتر داري اصول | PE. ED - 0811 | مسلکي / اساسي | 16 | 16 | | 32 | 2 | ښوونه او روزنه | | |
| 7 | د نسبیت فزیک | Ed. Ph - 0849 | تخصصي | 20 | 12 | | 32 | 2 | فزیک | | |
| 8 | | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| مجموعه | | | | 180 | 92 | 48 | 320 | 20 | | | |

| ګڼه | د مضمون ډول | کریډیټ | د کریډیټونو د مجموعي شمېر په اساس سلنه | ګڼه | اختیاري مضامین | کوډ | د مضمون کټګوري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | اختیاري او پوهنتون شمول | 1 | 0.621% | 1 | | | اختیاري |
| 2 | تخصصي | 17 | 10.559% | 2 | | | اختیاري |
| 3 | اساسي | 2 | 1.242% | د څانګې د آمر لاسلیک | | | |
| مجموعه | | 20 | 12.422% | | | | |

## د عمومي فزیک 1 مفردات

| تحصیلي کچه: | لیسانس |
|---|---|
| د تحصیلي موسسې نوم: | ---------- |
| پوهنځی: | ښوونه او روزنه |
| ډیپارټمنت: | فزیک |
| د مضمون عنوان: | عمومي فزیک 1 |
| د مضمون ډول: | اساسي |
| د مضمون کوډ: | Ed. Ph - 0120 |
| د کریډیټونو شمېر: | 3 |
| سمستر | لمړی |
| | |

**د مضمون لنډه تشریح:** په اوسني عصر کې د ساینسي علومو پرمختګ، زموږ په ژوند کې مثبت بدلون راوستی دی. زموږ لپاره یې بېلا بېلې آسانتیاوې رامنځته کړې. چې ددغو ساینسي علومو اساسي علم د فزیک له علم څخه عبارت دی. عمومي فزیک د هغو اساسي او بنسټیزو علومو څخه شمېرل کېږي. چې د هېواد په مختلفو پوهنتونونو کې تدریس کېږي. په دغه مضمون کې د میخانیک، مالیکولي او ترموډینامیک فزیکونو په نوم بخشونه شامل دي. چې په نهه (۹) څپرکو باندې ویشل شوی دی. اندازه کول، سینماتیک، ډینامیک او هایدروسټاټیک په میخانیک برخه، مالیکولونه، ایدیال او حقیقي ګازونه، تودوخه او د تودوخې درجه، د ترموډینامیک قوانین او جامد جسمونه په مالیکولي او ترموډینامیک برخه کې لوستل کېږي.

**زده کړه ییزې موخې:** څرنګه چې عمومي فزیک مضمون د نورو مضمونونو لپاره یو اساسي او مخکینۍ اړتیا په توګه تر ټولو مهم مضمون دی. نو د سمستر په پای کې د زده کړیالانو څخه د لاندې موخو د ترلاسه کولو تمه کېږي.

- زده کړیالان د میخانیک، مالیکولي او ترموډینامیک فزیکونو له ټولو (کلي) موضوع ګانو سره آشنا کېږي. په دغه مضمون کې زده کړیالان یوازې د فزیک د علم په هکله لومړنۍ پوهه ترلاسه کوي.
- زده کړیالان د فزیک د مفاهیمو او قوانینو (فورمولونو او معادلو) له کارونې او ګټې آخېستنې سره بلدتیا حاصلوي.

**د تدریس میتودونه او کړنلارې:** لکچر، پوښتنې او ځوابونه، ذهني فعالیتونه، ګروپي، نمایشي او لابراتواري کارونه.

**د مضمون درسي لړلیکونه: څپرکي او اړونده موضوع ګانې**
**لومړی څپرکی:** اساسات (د فزیکي کمیتونو اندازه کول، سکالري او وکتوري کمیتونه، سطحه او حجم).

**دویم څپرکی:** سینماتیک (د حرکت مفاهیم، د حرکت ډولونه او د حرکت معادلې).

**دریم څپرکی:** ډینامیک (کتله، قوه او د قوې ډولونه، د نیوټن له نظره د حرکت قوانین).

**څلورم څپرکی:** کار، توان، میخانیکي انرژي او د هغې ډولونه، مومنتم، تعادل او د هغه شرایط.

**پنځم څپرکی:** اهتزازات، میخانیکي اهتزازات، میخانیکي څپې او غږونه.

**شپږم څپرکی:** هایدروسټاټیک (کثافت، د پاسکال قانون، ارشمیدس او د برنولي قوانین).

**اووم څپرکی:** مالیکولي فزیک (د اتومونو او مالیکولونو کتلې او اندازې، د مالیکولونو ترمنځ د قوو متقابلې آغېزې، د ګازونو قوانین او د ایدیال ګاز د حالت معادله).

**اتم څپرکی:** ترموډینامیک (د تودوخې درجه، د تودوخې د درجې د اندازه کولو مقیاسونه، د اوبو درې ګونې نقطې، د تودوخې مقدار، د جسم داخلي انرژي، د تودوخې لېږد او د جسمونو درې ګوني حالتونه).

**نهم څپرکی:** د جسمونو انبساط (طولي، سطحي او حجمي انبساطونه او د ترموډینامیک قوانین).

**د مضمون اړتیاوې او د ارزونې ډول**

**د حاضرې پالیسي:**

- په ټولو عملي او نظري ساعتونو کې د زده کړیال منظم شتون حتمي دی.
- زده کړیال یوازې په معقول عذر سره ۲۵٪ غېر حاضري کولای شي.
- په یوه مضمون کې تر ۲۵٪ ډېره غېر حاضري د نوموړي مضمون په نهایي ازموینه کې د زده کړیال د محرومې لامل کرځي.

**د کورنۍ دندې قواعد:**

- د زده کړیال کورنۍ دنده د ۱۰٪ نمرو له مخې محاسبه کېږي.
- د زده کړیال د کورنۍ دندې نمرې د نوموړي د نهایي نمرو سره جمع کېږي.
- د نورو د علمي — څېړنیزو کارونو څخه copy او past ادبي غلا ده، د کورنۍ دندې له نمرو څخه د محروم والي باعث کرځي.
- په ټاکل شوي وخت کې په معقولو دلایلو سره د کورنۍ دندې د نه بشپړولو په صورت کې د لارښود استاد خبرول.

**د کار د ځنډېدو پالیسي:**

د ټولګي ازموینې، کورنۍ دندې او د زده کړیال نور صنفي فعالیتونه د ځنډېدو په صورت کې دویم چانس نه لري. د ستونزې د رامنځ ته کېدو په صورت کې زده کړیال کولای شي لارښود استاد په جریان کې واچوي.

**د نمرو ورکولو پالیسي:**

د کریډیټ لایحې د ۱۹مې مادې په نظر کې نیولو سره د ارزونې ډول او نمرې ورکول په لاندې ډول دي:

- په صنفي فعالیتونو کې د ونډې سلنه ( د زده کړې او تدریس پروسه ): ۵٪
- د صنفي پروژو سلنه ( کورنۍ دنده ): ۵٪
- د ډله ایز او انفرادي فعالیتونو سلنه ( عملي کار ): ۱۰٪
- د سمستر د نیمایي آزموینې سلنه: ۲۰٪
- د نهایي آزموینې سلنه: ۶۰٪
- ټولټال: ۱۰۰٪

**د زده کړیالانو مکلفیتونه**

- پر وخت ټولګي ته راتلل.
- د درسي محتوا څخه ګټه اخیستل.
- د نظم او دسپلین مراعات کول.
- د تیلفونونو بندول او یا یې هم اواز بندول.

- په ټولګي کې د تدریس او زده کړې پر مهال، د لکچر یا صنفي فعالیتونو په جریان کې د تعلیمي تدریسي سلوک، او منلو اخلاقو در لودل.
- د نورو نظرونو ته درناوی کول.
- د ټولګي په کړنو کې په ذهني او عملي توګه ګډون کول، د کلیدي مفهمونو یاداشتونه اخیستل.
- په صنفي فعالیتونو کې فعاله ونډه اخېستل.
- په ګروپي کار کې فعاله ونډه اخېستل.
- په زده کړه ییزو فعالیتونو او ګروپي کارونو کې له قومي، ژبني، مذهبي او نورو تعصباتو څخه په جدي ډول د زده کړیالانو ډډه کول.
- د ځان، جامو، ټولګي، لابراتوار او کمپس پاک ساتلو ته پوره پاملرنه کول.
- د کورنی کار په وخت وړاندی کول، پروژې او سمینارونه په ټاکلي وخت ترتیبول او په خپل وخت ارایه کول.
- درس ته چمتووالی درلودل او د چاپېریال او ټولګی نظافت مراعاتول.
- د کتابتون او انټرنیټ له آسانتیاوو څخه هر وخت ګټه اخېستل.

**په اکاډمیک ماحول کې د صداقت د نه شتون (عدم صداقت) پالیسي:**

- په اکاډمیک ماحول کې د صداقت په نه شتون کې جعلي مالومات، نامهم اسناد۱ علمي سرقت۲ او د داسې نورو فعالیتونو اجرا کول به یې د زده کړیالانو لخوا د زده کړې په وخت کې سرته رسیږي. د زده کړیالانو لخوا د داسې اعمالو سرته رسېدل په هیڅ وجه د قبول وړ نه دي. د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو او قواعدو مطابق باید نوموړو زده کړیالانو سره قانوني برخورد وشي.
- د مضمون استاد مکلف دی چې په اکاډمیک ماحول کې د عدم صداقت موارد تشخیص کړي. د موضوع د څېړنې لپاره استاد باید زده کړیال سره خبرې وکړي او د زده کړیال دفاعي خبرې واوري او تصمیم نیولو څخه وروسته یې اړونده مراجعو ته وروپېژني.
- د عدم صداقت (صداقت نه شتون) په وخت کې د استاد له خوا برخورد باید د نورو زده کړیالانو په درس باندې اغېز ونه کړي. د اړونده مضمون استاد به د پېښې شاهد او د پېښې په اړه به شواهد ټولوي او د پوهنځي مسئولین به خبر وي.
- د پوهنځي اداره به قانوني اجرات کوي، ټول شواهد او مدارک به له ځان سره ساتي.

## د ځانګړې او مضمون د تمه لرونکو پايلو مفهومي نقشه

| | | د فزيک ځانګړې تمه لرونکې پايلې | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د عمومي فزيک 1 مضمون تمه لرونکې پايلې | 1. د مضمون د اساساتو پېژندنه، د فزيک او نورو ځانګو د مضامينو سره اړيکې | 2. د نورو مضامينو د نېې زده کړې په منظور د پوهې او مهارتونو ترلاسه کول او په ورځني کارونو کې ګټه ترې اخيستل | 3. زده کړيالانو او د ښوونځي زده کوونکو ته د پوهې د ښه لېږد لپاره د تجربوي مهارتونو ور زده کول | 4. د فزيکي پديدو پېژندنه، پر هغوی باندې اغېزې او د فزيکي مفاهيمو تحليل او تجزيه | 5. د مفاهيمو د لېږد، د مسائلو د حل، د لابراتواري موادو د ترتيب او برابرولو او د تجربو په ترسره کولو کې لازم مهارتونه ترلاسه کول | 6. مثبتې پايلې ته د رسيدو، د څېړنيزې موضوع د استدلال او په ساحوي او تجربوي برخو کې د علمي څېړنو د مهارتونو پراختيا |
| | | ن.م.ر. | ن.م.ر. | ن.م.ر | ن.م.ر | ن.م.ر | ن.م.ر |
| 1 | د فزيک له اساسي مفاهيمو سره آشنايي، تقريبي عددونه او سکالري او وکتوري کميتونه. | 3 | 3 | 3 | 3 | 2 | 2 |
| 2 | د سينماتيک او ډيناميک له مفاهيمو سره آشنايي او له ورځني ژوند سره د هغوی آړيکې | 3 | 3 | 2 | 3 | 3 | 3 |
| 3 | له هايدروستاتيک سره آشنايي او غږ پېژندنه. | 3 | 3 | 3 | 2 | 3 | 3 |
| 4 | د ماليکولي او ترموډيناميک فزيک سره آشنايي. | 3 | 3 | 2 | 2 | 2 | 3 |
| 5 | د تيوري ګانو د تطبيق لپاره د تجربوي مهارتونو کسبول. | 3 | 3 | 3 | 3 | 2 | 2 |
| مجموعه | | 3 | 3 | 2.6 | 2.6 | 2.4 | 2.6 |
| عمومي اوسط | | 2.7 | | | | | |

3= تر ټولو لوړ کچه 2= متوسط کچه 1= تر ټولو ټيټ کچه

| اخځلیکونه References | |
|---|---|
| اساسي اخځلیک | 1- ستانیزی، عبدالظاهر. احدیار، فریبا. (۱۳۹۲). فزیک عمومی. کابل: انتشارات سعید. |
| مرستندویه اخځلیکونه | 1. اخلاص، حسن خان. (۱۳۹۴ هـ ش). فزیک عمومی. کابل: انتشارات نویسا.<br>2. حمیدي، شیرزمان. (۱۳۹۷ هـ ش). عمومي فزیک. ننګرهار: زیار خپرندویه ټولنه.<br>3. غوری، محمد انور. ستانکزی، محمد همایون. (۱۳۹۰ هـ ش). مبادی فزیک (چاپ اول). کابل: انتشارات سعید. |

## د عمومي فزیک 2 مفردات

| | |
|---|---|
| **تحصیلي کچه:** | **لیسانس** |
| د تحصیلي موسسې نوم: | ---------- |
| پوهنځی: | ښوونه او روزنه |
| دیپارتمنت: | فزیک |
| د مضمون عنوان: | عمومي فزیک2 |
| د مضمون ډول: | اساسي |
| د مضمون کوډ: | Ed. Ph - 0220 |
| د کریډیټونو شمېر: | 3 |
| سمستر | دویم |
| | |

**د مضمون لنډه تشریح:** په اوسني عصر کې د ساینسي علومو پرمختګ، زموږ په ژوند کې مثبت بدلون راوستی دی. زموږ لپاره یې بېلا بېلې آسانتیاوې رامنځته کړي. چې ددغو ساینسي علومو اساسي علم د فزیک له علم څخه عبارت دی. عمومي فزیک د هغو اساسي او بنسټیزو علومو څخه شمېرل کېږي. چې د هېواد په مختلفو پوهنتونونو کې تدریس کېږي. په دغه مضمون کې برېښنا او مقناطیس، آپټیک، آتومي او هستوي، نسبیت او جامد حالت فزیکونو بخشونه لوستل کېږي. برېښنایي چارجونه، برېښنایي ساحه، خاذنونه، برېښنایي جریان، مقاومتونه او الکترومقناطیسي موجونه په برېښنا او مقناطیس فزیک، اتوم، اتومي موډلونه،د اتوم جوړښت، راډیواکتیویتي، راډیواکتویتي وړانګې او بنسټیزې ذرې او همداسې نور عنوانونه په اتومي او هستوي فزیک، انعکاس، انکسار، تداخل او تفرق او اړونده عنوانونه په آپټیک فزیک، نسبیت، عام نسبیت، خاص نسبیت، د طول نسبیت په نسبیت فزیک او همدارنګه جامد جسمونه، بلوري جسمونه او کرستالي شبکې په جامد حالت فزیک کې لوستل کېږي.

**زده کړه ییزې موخې:** څرنګه چې عمومي فزیک د نورو فزیکونو لپاره یو اساسي او مخکینۍ اړتیا په توګه تر ټولو مهم مضمون دی. نو د سمستر په پای کې د زده کړیالانو څخه د لاندې موخو د ترلاسه کولو تمه کېږي.

- زده کړیالان د برېښنا او مقناطیس، آپټیک، آتومي او هستوي، نسبیت او جامد حالت فزیکونو له ټولو (کلي) موضوعاتو سره آشنا کېږي. په دغه مضمون کې زده کړیالان یوازې د فزیک د علم په هکله لومړنۍ پوهه ترلاسه کوي.
- زده کړیالان د فزیک د مفاهیمو او قوانینو (فورمولونو او معادلو) له کارونې او ګټې آخېستنې سره بلدتیا حاصلوي.

**د تدریس میتودونه او کړنلارې:** لکچر، پوښتنې او ځوابونه، ذهني فعالیتونه، ګروپي، نمایشي او لابراتواري کارونه.

**د مضمون درسي لړلیکونه: څپرکي او اړونده موضوع ګانې**

**لومړی څپرکی:** ساکنه برېښنا (برېښنايي چارج، د کولمب قانون، برېښنايي ساحه).

**دویم څپرکی:** برېښنايي جریان (د پوتانشیل تفاوت، برېښنايي جریان، خاذن، برېښنايي مقاومت، د کرشهوف قوانین، د اوم قانون).

**دریم څپرکی:** مقناطیس (مقناطیس، مقناطیسي قوه، مقناطیسي سیلان، الکترومقناطیسي القا، د فارادي او د لینز قوانین).

**څلورم څپرکی:** نور، د نور اساسي مفاهیم، د نور انعکاس، مستوي او متلاقي هندارې.

**پنځم څپرکی:** کروي هندارې، په کروي هندارو کې آنځورونه، د کروي هندارو فورمولونه.

**شپږم څپرکی:** د نور انکسار، د انکسار قوانین، بحراني زاویه، کلي انعکاس، متوازي السطوحه تیغه او منشور.

**اووم څپرکی:** عدسيې، په عدسيو کې د هندسي کرښلارو په واسطه د تصويرونو جوړول، آپټيکي آلې.

**اتم څپرکی:** موجي نور، د نور تداخل، د تداخل اعظمي او اصغري شرايط، تفرق، د نور قطبي کېدنه او د فوتوالکتريک آغېز.

**نهم څپرکی:** اتوم او هسته (اتوم، د اتوم موډل، د اتوم جوړښت، د اتوم هسته، راډيواکتيويتي).

**لسم څپرکی:** د نسبيت نظريه، عام نسبيت، خاص نسبيت، د طول نسبيت، د وخت او کتلې نسبيت.

**يوولسم څپرکی:** د جامد حالت فزيک(جامد جسمونه، بلوري او امورفي جسمونه، د کرستالې شبکو نمونې).

**د مضمون اړتياوې او د ارزونې ډول**

**د حاضري پاليسي:**

- په ټولو عملي او نظري ساعتونو کې د زده کړيال منظم شتون حتمي دی.
- زده کړيال يوازې په معقول عذر سره ۲۵٪ غېر حاضري کولای شي.
- په يوه مضمون کې تر ۲۵٪ ډېره غېر حاضري د نوموړي مضمون په نهايي ازموينه کې د زده کړيال د محرومۍ لامل ګرځي.

**د کورنۍ دندې قواعد:**

- د زده کړيال کورنۍ دنده د ۱۰٪ نمرو له مخې محاسبه کېږي.
- د زده کړيال د کورنۍ دندې نمرې د نوموړي د نهايي نمرو سره جمع کېږي.
- د نورو د علمي – څېړنيزو کارونو څخه copy او past ادبي غلا ده، د کورنۍ دندې له نمرو څخه د محروم والي باعث ګرځي.
- په ټاکل شوي وخت کې په معقولو دلايلو سره د کورنۍ دندې د نه بشپړولو په صورت کې د لارښود استاد خبرول.

**د کار د ځنډېدو پاليسي:**

د ټولګي ازموينې، کورنۍ دندې او د زده کړيال نور صنفي فعاليتونه د ځنډېدو په صورت کې دويم چانس نه لري. د ستونزې د رامنځ ته کېدو په صورت کې زده کړيال کولای شي لارښود استاد په جريان کې واچوي.

**د نمرو ورکولو پاليسي:**

د کريډيټ لايحې د ۱۹مې مادې په نظر کې نيولو سره د ارزونې ډول او نمرې ورکول په لاندې ډول دي:

| | |
|---|---|
| ➢ په صنفي فعاليتونو کې د ونډې سلنه ( د زده کړې او تدريس پروسه ): | ٪۵ |
| ➢ د صنفي پروژو سلنه ( کورنۍ دنده ): | ٪۵ |
| ➢ د ډله ايز او انفرادي فعاليتونو سلنه ( عملي کار ): | ٪۱۰ |
| ➢ د سمستر د نيمايي آزموينې سلنه: | ٪۲۰ |
| ➢ د نهايي آزموينې سلنه: | ٪۶۰ |
| ➢ ټولټال: | ٪۱۰۰ |

**د زده کړیالانو مکلفیتونه**

- پر وخت ټولګي ته راتلل.
- د درسي محتوا څخه ګټه اخیستل.
- د نظم او دسپلین مراعات کول.
- د ټیلفونونو بندول او یا یې هم اواز بندول.
- په ټولګي کې د تدریس او زده کړې پر مهال، د لکچر یا صنفي فعالیتونو په جریان کې د تعلیمي تدریسي سلوک، او منلو اخلاقو در لودل.
- د نورو نظرونو ته درناوی کول.
- د ټولګي په کړنو کې په ذهني او عملي توګه ګډون کول، د کلیدي مفهمونو یاداشتونه اخیستل.
- په صنفي فعالیتونو کې فعاله ونډه اخېستل.
- په ګروپي کار کې فعاله ونډه اخېستل.
- په زده کړه ییزو فعالیتونو او ګروپي کارونو کې له قومي، ژبني، مذهبي او نورو تعصباتو څخه په جدي ډول د زده کړیالانو ډډه کول.
- د ځان، جامو، ټولګي، لابراتوار او کمپس پاک ساتلو ته پوره پاملرنه کول.
- د کورنی کار په وخت وړاندی کول، پروژې او سمینارونه په ټاکلي وخت ترتیبول او په خپل وخت ارایه کول.
- درس ته چمتووالی درلودل  او د چاپېریال او ټولګی نظافت مراعاتول.
- د کتابتون او انټرنیټ له آسانتیاوو څخه هر وخت ګټه اخېستل.

**په اکاډمیک ماحول کې د صداقت د نه شتون (عدم صداقت) پالیسي:**

- په اکاډمیک ماحول کې د صداقت په نه شتون کې جعلي مالومات، نامهم اسناد ۱ علمي سرقت ۲ او د داسې نورو فعالیتونو اجرا کول به یې د زده کړیالانو لخوا د زده کړې په وخت کې سرته رسیږي. د زده کړیالانو لخوا د داسې اعمالو سرته رسېدل په هیڅ وجه د قبول وړ نه دي. د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو او قواعدو مطابق باید نوموړو زده کړیالانو سره قانوني برخورد وشي.
